# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبــــاد    بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم    از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com    afgazad@gmail.com

| Political | سیاسی |
| --- | --- |

لیکونکی: عباس حشمتی
ژباړه: شاه محمود "سرتیر"
۱۳ جنوری ۲۰۲۵

## د پاکستان-افغانستان سرحدي شخړه او د هغې سيمه ايزې اغيزې

د پاکستان او افغانستان ترمنځ نښتي د ډیسمبر په ۲۱ مه په پاکستان کې د TTP له بریدونو وروسته چې د ۱۶ پاکستاني پوځیانو د وژل کېدو لامل شوې، نوي اوج ته رسېدلي دي. له هغه وخت راهیسې د دواړو لورو ترمنځ تاوتریخوالی زیات شوی دی. د دواړو هېوادونو ترمنځ پرله پسې سرحدي نښتو سیمه نوره هم بې ثباته کړې ده.



### د ترهګرۍ وده او د پاکستان پر ثبات د هغې اغیزې

پاکستان چې یو وخت د افغان طالبانو په ملاتړ تورن شوی و، له افغانستان څخه د تروریزم د خلاصون لپاره مبارزه کوي. د TTP، BLA او داعش په ګډون ګڼ ترهګریز سازمانونه د افغانستان له خاورې په ګاونډیو هېوادونو کې د تروریستي فعالیتونو د ترسره کولو لپاره کاروي. په ۲۰۲۱ کال کې د افغان طالبانو له خوا د کابل تر نیولو وروسته، په پاکستان کې ترهګریز فعالیتونه زیات شوي دي. په ۲۰۲۳ کال کې تر ۱۵۰۰ زیات پاکستانیان په دغه هېواد کې د ترهګریزو فعالیتونو له امله وژل شوي وو. په ۲۰۲۴ کال کې ۵۲۱ ترهګریز بریدونه شوي چې د تیر کال په پرتله په ترهګرۍ کې ۷۰ سلنه زیاتوالی راغلی دی. د پاکستان د سولې مطالعاتو انستیتیوټ (PIPS) وايي چې په ۲۰۲٤ کې د دې فعالیتونو تناسب د ۲۰۱۵ یا مخکې په پرتله کچې ته رسیدلی.

د تروریستي فعالیتونو دغه ناڅاپه زیاتوالی د هیواد له پخوا څخه په ټپه ولاړ اقتصاد نور هم زیانمن کړی دی. د دې تر څنګ په هېواد کې د ترهګرۍ د زیاتوالي له امله بې ثباتي نوره هم زیاته شوې ده. د پاکستان نړیوال موقف او اړیکې هم د دغه هېواد د خرابېدونکي امنیتي وضعیت له امله خړې پړې دي. پاکستان د چین د یو کمربند او یوې لارې نوښت (BRI) د لویې پروژې – CPEC کوربه دی. په هرصورت، پر چینایي انجنیرانو چې په دې پروژه کې کار کوي پرله پسې ترهګریزو بریدونو د هغې بشپړتیا او امنیت له خطر سره مخامخ کړی دی.

پاکستان او چین د خپلواکۍ له اخیستو راهیسې ښې اړیکې لري. چین تل د ترهګرۍ پر ضد د پاکستان د هڅو ستاینه کړې ده. سره له دې، په تروریزم کې روان زیاتوالی د دې اړیکو لپاره هم زیانمن ثابتوي. په جون ۲۰۲٤ کې، یو چینایي چارواکي، اسلام آباد ته د خپل سفر په ترڅ کې وویل چې په پاکستان کې خراب امنیتي وضعیت د CPEC د بریالیتوب لپاره مهم خنډ و. هغه نور خبرداری ورکړ چې دا حالت "د چینایي پانګوالو باور له منځه وړي."

دا په دې معنی ده چې په پاکستان کې ترهګریز بریدونه له سیمه ییزو ګاونډیانو سره د پاکستان اړیکو ته زیان رسوي. پاکستاني چارواکو له اوږدې مودې راهیسې د افغانستان له موقت حکومت څخه غوښتي چې د تحریک طالبان پاکستان (ټي ټي پي) کنټرول کړي. خو افغان چارواکو هېڅکله دغه غوښتنې جدي نه دي نیولې. د TTP او افغان طالبانو تر منځ ایډیالوژیکي هماهنګي، او د امریکا او ناټو ځواکونو په وړاندې د هغه پخواني پوځي مرستې، د افغانستان موقت حکومت د دې مخه نیسي چې په وړاندې یې کوم جدي اقدام وکړي. د پاکستاني چارواکو له ګڼو خبرداریو سره سره، TTP د افغانستان له خاورې په استفادې په پاکستان کې ترهګریزو فعالیتونو ته دوام ورکوي. پاکستان په رسمي ډول د افغانستان په پکتیکا ولایت کې، چې د پاکستان له جنوبي وزیرستان سره پوله لري، د تحریک طالبان پاکستان پر پټنځایونو هوایي بریدونه کړي دي.

د دغو هوایي بریدونو په غبرګون کې د افغانستان د اطلاعاتو وزیر خیرالله خیرخواه ویلي، "موږ باید د دغو مېلمنو او ملګرو د ساتنې لپاره د افغان ملت ژمنې ته درناوی وکړو." د افغان طالبانو موقت حکومت د پاکستان پر ضد د غچ اخیستنې په هڅه کې د پاک افغان پولې په اوږدو کې څو سیمې په نښه کړې. د دواړو لورو تر منځ پراخې جګړې د سیمې امنیتي وضعیت لا پسې کړکېچن کړی دی. د پولې دواړو غاړو ته د پاک افغان ځواکونو ترمېنځه په روانو نښتو کې د لسګونو کسانو د مرګ ژوبلې خبرونه ورکړل شوي دي.

## د سرحدي نښتو او د واخان دهلیز د برید لپاره د پاکستان پلان

**د راپورونو له مخې، پاکستان په پام کې لري چې د افغانستان د واخان** دهلیز، یوه مهمه سیمه چې تاجکستان له پاکستان څخه جلا کوي، برید وکړي. دغه تنګه پټه هم افغانستان له چین سره نښلوي. د واخان دهلیز په نیولو سره، پاکستان کولی شي د منځنۍ اسیا بازارونو ته لاسرسی ومومي، په داسې حال کې چې وروستی کولی شي ګرمو اوبو ته لاسرسی ومومي او د CPEC سره اړیکه ونیسي. سربېره پر دې، په واخان دهلېز باندې د پاکستان نفوذ به په چین کې د داعش او نورو ترهګرو سازمانونو له خوا د ترهګریزو بریدونو ګواښ راکم کړي. د ویلو ده چې د واخان دهلیز د اشغالولو په خاطر یې پاکستان ته هم شین څراغ ورکړی دی.

د پاکستان د آی ایس آی مشر جنرال عاصم ملک په دې وروستیو کې تاجکستان ته تللی دی. وروستی د افغانستان یو له سیمه ایزو سیالانو څخه دی او د طالبانو ضد افغان ملتپالو مشرانو کوربه دی. د افغانستان د ملي مقاومت جبهې (NRF) قوماندانان چې ډېری یې تاجک نژاده دي، هم په تاجکستان کې پناه اخیستې ده. ویل شوي، چې د پاکستان د یوه لوړ پوړي پوځي چارواکي د دغه سفر اصلي موخه د واخان دهلیز په اشغال کې له تاجکستان څخه د مرستې

غوښتل وو. سربیره پردې، دا پدې معنی ده چې پاکستان غواړي په افغانستان کې د طالبانو او ډیموکراسی ضد ډلو ملاتړ وکړي.

د پاکستان او افغانستان تر منځ تاوتریخوالی له دې کبله نور هم زیات شوی چې د پاکستان په خاوره کې یې د برید پلان درلود. که څه هم پاکستان پر افغانستان پوځي واکمني لري، خو که د واخان په دهلېز برید وکړي، ښايي په هېواد کې دننه د TTP او BLA له خوبه د تروریستي بریدونو نوې څپه ووېني. دا به په هیواد کې امنیتي وضعیت نور هم له خطر سره مخامخ کړي او د اقتصادي او سیاسي بې ثباتی لامل شي. له بلې خوا به په افغانستان کې د پام وړ اقتصادي او انساني زیانونه واړول شي، چې په دغه هېواد کې د بشري ناورین مخ په زیاتیدو دی.

افغانستان له چین سره د سوداګریزو او ډیپلوماتیکو اړیکو د ټینګولو هڅه کوي، په داسې حال کې چې پاکستان د چین یو مهم متحد دی. دا دواړه لوري هڅوي چې جګړه په سوله ییزه توګه حل کړي. په افغانستان کې ثبات له ګاونډیو هېوادونو سره له ښو اړیکو پرته نه شي راتلای. نو افغان طالبان باید په دې پوه شي چې دوی اوس یوه وسله واله ډله نه ده، بلکې یو تاسیس شوی حکومت دی، چې د پام وړ کورني او بهرني مسوولیتونه لري.

هغو ترهګرو ډلو ته پناه ورکول چې په هر ګاونډي هیواد کې ترهګریز فعالیتونه ترسره کوي د دوحې له تړون څخه سرغړونه ده. که د پاکستان او افغانستان تر منځ محدوده جګړه پیل شي، د ټولې سیمې لپاره به یې ناوړه پایلې ولري. په دې توګه، سیمه ییز قدرتونه په ځانګړې توګه روسیه او چین ته اړتیا ده چې د دې لانجې په ډیپلوماتیکه توګه د حل لپاره خپل رول ولوبوي. که نه نو، دا شخړه به ټوله سیمه بې ثباته کړي، او سیالو ځواکونو ته به په جنوبي آسیا کې د چین او روسیې ګټو ته د زیان رسولو فرصت برابر کړي.

د جنوري ۰۹، ۲۰۲۵

*****

* - په روسیه کې منع شوی

عباس حشمتی - د سیمه ایزو او نړیوالو جیو پولیټیکل مسلو لپاره سیاسي څارونکی او څېړونکی شنونکی دی. نوموړی اوسمهال د یوه خپلواک څېړونکي او ژورنالیست په توګه کار کوي.

**منبع:**

[The Pakistan-Afghanistan Border Conflict and Its Regional Implications (journal-neo.su)]

011225-The-Pak-Afg-Border-.pdf